د مجاهد ملت شهادت سلسله مستمر تا بر بوم و بر آزرده افغانستان نام پیامبر و برنامه اسلامی باقی است

چهار صفحه

شهادت

ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

شمارهٔ مسلسل (۱۲۰۰) سال نزدهم ، شمارهٔ (۱۰۹) یکشنبه (۲۸) اسد ۱۳۷۵ هـ ش ، (٤) ربیع الثاني ١٤١٧ هـ ق - (۱۸) اگست ۱۹۹۶ م

په هوا کښې د ملاوکیل دالوتکې د ټایر پنچرکیدل

تیره شپه د روسي پیلوټانو اراپلوټان (۷۹) ورله الوتکي دتښتولو په باره کې دطالبانو دویندویانو له و جم تشیره ته یوه لن مباغلي ملاوکیل احمد دی بي سي دخبریال دیري پوښتني په ځواب کي وویل چي د دطالبانو یوه طیاره ور پسي دالوتله خو په هواکي ئي تایرپنچرشو ...

که له ملاوکیل احمد صاحب نه وپوښتل شي چي په هواکي دټایر پنچري څه معنی ؟ ملاصاحب حتماً فکرکوي چي الوتکه په هوا کي مزل په ټایرکوي نوچي ټایرپنچرشي بیاخوخبره خرابه ده ، اوالوتکه باید لوړ ژرګوزه شي ، که څوک قیامت په جوړشي !

پاتی د ٤ مخ ۱۰ م ستون

ملاقات سفیرفرانسه درکابل با برادر «حکمتیار»

الهی لارښوونې

بیایی له هغوئه مخ واړاوه او ویل هی هی یوسفه ! هغه په غمرنه زغمل او د سترګو اوښکې سپینې زامنوپی وویل : د خدای لپاره ته خو تل همدا یوسف یاد وی ، د د رارسیدلی دی چی د هغه په غم خپل ځان ویلی ویلی کړی یا خپل ځان هلاک کړی » .

(یوسف ۸٤-۸۵)

غلاشوی دولتی مالونه ونیول شول

کابل - دزمري ۲۷ مه :
یوه اندازه دولتي مالونه چي مخکي

پاتی د ٤ مخ ۲۵ م ستون

روسی پیلوټانو له طالبانو، خپله الوتکه وتښتوله

ستاتور پراون په کندهارکی دروسي پیلوټانو په منځ کی ولاړ دی

پیلوټانو الوتکه پرون مازدیګرسره له دری طالبانو شارجه ته ورسوله

دطالبانو بښکاری الوتکی له کاره لویدلی وی

پټ سازش شوی ، خو ډرامی ته چی کومه بڼه ورکړه شوه ، هغه ډیره خندوونکی ده

دپیلوټانو او الوتکی خلاصولو ته ابرومندانه شکل هم ورکول کیدای شوای خو تصداً دطالبانو په حیثیت یوناوړه ګوزار وشو

باید څینو توتونو غوښتل تیښتي ته دهمدی ینی په ورکولو وښئی چی دالوتکې کړول دطالبانو کاره و

باید طالبان ویوهیږی چی دځینو طاقتونو لپاره یی افادیت ختم شوی ، زوال یی شروع شوی دی ، که پرحالاتو سوچ ونکړی ډیر ژر به وربانندی ناوخته شی

کندهار - دزمري ۲۷ مه :
دوهمه ورځ په دریو بجوله طالبانو سره بندي روسي پیلوټانو دتاتارستان ایلوش (۷٦) دوله الوتکه هغه چي یوکال دمخه طالبانو کندهار په هوائي ډګرکي کوزه کړي وه ، وتښتوله او شارجه ته ورسیدل .
رپوټونه وائي چي طالبانو به په هرو دوومیاشتوکي یوځل روسي پیلوټان الوتکي ته بیول چي چالانډني کړي .
دوهمه ورځ بي هم دالوتکي عمله ددریو وسلوالوکسانو په ډرګه الوتکي ته ورورسیله چي ماشین ئي چالان کړي خوداځل پیلوټانو الوتکي ته حرکت ورکړ اودمیدان پل سرته له رسیدوسره بي پرواز وکړ ، پـه سرعت ئي ارتفاع ونیوله اودکړیتي په استقامت ئي پروازته ادامه ورکړه .
رپوټونه وائي چي په هوائي ډګرکي

پاتی د ٤ مخ ۱۰ م ستون

دهوډخیلو په جومات کی دجمعی لمونځ دورور «حکمتیار» په امامت وشو

کابل - دزمري ۲۷ مه :
دهیواد صدراعظم ورور حکمتیار دتیري جمعي مبارکي لمونځ دهوډخیلو دکلي په جامع جـومات کي په خپل امامت اداکړ .
دعظمی صدارت د مطبوعاتي دفتررپوټ لـه مخي ورور حکمتیار دلمانځه لـه خطبي مخکي دطالبانو اوسنګرانو اوهمداراز دقیامت دورځي

پاتی د ٤ مخ ۱۰ م ستون

در ٦٤ کشور جهان یازده میلیون ماین مدفون است

واشنګتن - ۲۷ اسد :
شوراي امنیت ملل متحد گفته است که در ٦٤ کشور دنیا بشمول افغانستان حدود (۱۱) ملیون ماین هاي ضدپرسونل جابجاشده که خطرات جاني رادربردارد .
نماینده امریکا در شوراي امنیت ملل متحد اظهارنموده که اکثریت این ماین هاي مدفون شده در کشورهایی چون

بقیه درستون ۲ ، صفحه ٤

دننګرهارشوري په قوماندان خورشید برید وکړ

په دکه اومالګی کندوکی دخورشید پنځه سنګرونه او دوه د هستوګنی خایونه ونیول شول

دوه تنه مړه اوشپږتنه ټپیان شول

جلال آباد - دزمري ۲۷ مه :
پرون دغرمي پـه ۱۱ بجو اولسو دقبلودننګرهار شوري ځواکونو په دکه اومالګي کندوکي دقوماندان خورشید په مورچوبریدوکړ چي دمازدیګر تر شپږ نیمو بجو پـه وقفوي شکل جګړه روانه وه .
دشهادت خبریال رپوټ راکوي چي په دي جګړه کـي شوري لـه قوماندان خورشیدڅه په دکه او مالګي کنډوکي پنځه سنګرونه اودوه دهستوګني ځایونه ونیول اوخورشید یي دخاوري سیمي ته په شاتګ مجبورکړ .
رپوټ زیاتوي چي په دي جګړه کي دخورشید دوه تنه مړه اودري ټپیان شول اوهمدارنګه دشوري له کسانوڅخه هم دري تنه زخمیان شول .
رپوټ وائي چي پرون سهارد ختي شوري خپل زیات شمیرافراد اوټانکونه

پاتی د ٤ مخ ۱۰ م ستون

دورنمای صلح درافغانستان روشن به نظر می رسد

انکشافات چند ماه اخیر مبین این حقیقت است که یگانه راه حل بحران واستقرار صلح درافغانستان ، تفاهم ومذاکره می باشد

اسلام آباد - ۲۷ اسد :
جنگ و بحران جـاري درافغانستان عنقریب خاتمه خـواهد یافت ودرعوض صلح وامنیت سرتاسري در این کشورتأمین خواهدشد.

بقیه درستون ۳ ، صفحه ٤

رئیس شورای امنیت ملی روسیه :

عنقریب اسمای عده یی از افراد بلند رتبه ملکی ونظامی روسیه را که در ادامهٔ جنګ های چیچن دخیل اند افشا خواهم کرد

اګر وزیرداخله روسیه کنار نرود ، استعفی می نمایم

ګروزني - ۲۷ اسد:
الکساندر لیبد رئیس شوراي امنیت روسیه که دراین اواخر ازطرف بوریس یلتسن رئیس جمهور روسیه بحیث مسئول امور جمهوري مسلمان نشین چیچن تعیین ګردیده هشدارداده که اسماي هریک از افراد بلند رتبـه حکومتي و نظامي روسیه را که درادامه جنګ هاي بي مفهوم این جمهوري دخیل اند، افشا ونشاندهي مي کند .
آژانس خبري انترفکس ګزارش مید هد که رئیس شوراي امنیت روسیه طي ګفتګویي درمنطقه خـان قلعه یکي

بقیه درستون ۵ ، صفحه ٤

خطرات جنګ اتمی میان پاکستان وهند روبه افزایش است

علت عمده تشنج وعدم ثبات درمنطقه ، عظمت طلبی هند جهت تبارزکردن منحیث یك ابر قدرت می باشد

دهلي جدید - ۲۷ اسد :
ازیکسال به اینطرف روابط میان هندوپاکستان به سرعت رو به وخامت نهاده است که درنتیجه آن خطرات مشتعل شدن جنګ اتمي میان هندوپاکستان تشدید یافته است .
این مطلب را اداره نظارت تسلیحاتي امریکابنام ACDA درګزارشي که به دانګرس آنکشورفرستاده است ذکرنموده که خبرآن در روزنامه جنګ چاپ پاکستان باخط درشت انعکاس یافته است .

بقیه درستون ۵ ، صفحه ٤

امریکاپه پاکستان کی خپلو اتباعوته داحتیاط خبر داری ورکړی دی

دامریکا د بهرنیو چـارو وزارت په پاکستان کي خپلوتباعوته د احتیاط کولو خبره .په ورکړي اوویلي ئي دي چي ځیني کسان غواړي په دي هیواد کي دامریکادګټو په خلاف په شورش اواقدام

پاتی د ٤ مخ ۲۰ م ستون

دطالبانو په توغندیو دکابل (۵) ښاریان شهیدان او (۱۲) ټپیان شول

کابل - دزمري ۲۷ مه :
پرون دوهمي ورځي په اوږدوکي هم طالبانو دکابل ښار د٦ - ۷ - ۸ او ۹ مي ناحیي داسترګوپه سیموتو غندویي بریدونه وکړل .

پاتی د ٤ مخ ۱۰ م ستون

به ایران وهند اجازه نخواهیم داد تا پیمان (CTBT) راویتو نمایند

اسلام آباد :
قدرت هاي بزرګ اتمي ګفته اند که آنها اجازه نخواهند داد تاهند وایران معاهده منع آزمایشات اتمي راموره ویتوقراردهند .
طبق ګزارش منابع خبري پاکستان مقامات عالي رتبه امریکایي ګفته اند که درصورت عدم توافق به سه مورد این معاهده ماه آینده اصل معاهده به مجمع

روسی دامنیتی شورا رئیس الکساندر «لیبد» دچیچن دمجاهدینو له مشر سلیم خان تندرباپوف سره

طبق ګزارش منابع خبری ایران :

قوماندان ملا علی محمد با نیروهای دولتی یکجاشد

کابل - ۲۷ اسد :
یکي ازقوماندان هاي ګروه طالبان همراه باچهل تن ازافرادش درولایت وردګ باتنظامیان دولت یکجاشد .
طبق ګزارش منابع خبري ایران این قوماندان ملاعلي محمد نام داشته وده ها میل اسلحه خفیف وسنګین نیز به نیروهاي دولتي تسلیم داده است .

« غفورزی » معین وزارت خارجه افغانستان طی کنفرانس مطبوعاتی درکابل :

دولت اسلامی افغانستان ازتحریم کلی ترسیل اسلحه به جناحهای دخیل قضیه افغانستان طرفداری می کند

کابل - ۲۷ اسد:
وزارت امورخارجه افغانستان تحریم یکجانبه اسلحه به افغانستان را محکوم نمود .
عبدالرحیم «غفورزي» معاون وزارت امورخارجه دولت اسلامي افغانستان طي کنفرانس مطبوعاتي درکابل اظهارداشت که افغانستان ازبرنامه تحریم اسلحه برتمام جناح هاي درګیرافغان حمایت وپشتیباني مي کند مشروط براینکه برنامه مذکور تنها متوجه دولت اسلامي افغانستان نباشد .
رادیوکابل به نقل ازمعین وزارت امورخارجه افغانستان ګزارش مي دهد که قطع ارسال اسلحه برضد دولت اسلامي افغانستان ، مخالف هرګونه موازین حقوق بین الدول ونورم هاي بین المللي مي باشد .
غفورزي ، خواستار تحریم سلاح برهمه اطراف ذیدخل قضیه افغانستان شده افزود : که برخي کشورهاي خارج براي ګروه هاي مخالف دولت ، اسلحه وتجهیزات جنګي مي فرستند ودولت اسلامي نمي تواند ازسرحدات کشـور با مساحت

بقیه درستون ۲ ، صفحه ٤

شهادت
ارګان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
مؤسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

دخپلواکی ورځ

له نن نه ۷۷ کاله دمخه افغان ولس دیوه میړني پاڅون په نتیجه کې له انګلیسانو څخه خپله «خپلواکي» وګټله .

دکوم ترون له مخې چې دګران هیوادخپلواکي اعلان شوه ، دهغه دمتن په باب مورخین بېلې ډېرې ملاحظې لري، ان تردې چې وائي په نوموړي ترون کې په هیڅ توګه زموږ ملت ته هغه څه نه دي ورکړل شوي، کوم چې دیوه فاتح قوم حق وي، اوکوم چې باید زموږ ولس ته ورکړل شوي واي، ځکه زموږولس بریالي پاڅون کړي و، جګړه ئي ګټلې وه ، اوپوه استعماري اوقابض ځواک ته ئي ماتې ورکړې وه ، او باید دخبرواترو په میزهغه څه شوي واي چې دجګړې ددګروتو وضعي حکم کولای ، دمیز پرسرهغه څه شوي واي چې ددووجګړه ایزو لوریو دارادودتکر نتیجې ګڼل کیدلای .

مګربرعکس په ترون کې وشول داسي چې «فاتح» د «مغلوب» او «مغلوب» د «فاتح» په ځای ودرول شو. انګلیسانو وکړای شوای چې دجګړې ددګرماتې اودارادو دتکر ناکامي دمیز په سرلوبه کې جبران کړي .

خوددې ټولو باوجود په هغه وخت کې زموږ نیکونو وکړای شول چې خپله «خپلواکي» ترلاسه کړي، خپل ملي وحدت وساتي، اودټولو توطیو اومشکلاتو له منځ نه دیوه متحدولس اومتحد هیواددخاوندانو په توګه عمل وکړي، اودخپلو دې اساسي عناصرو په تحفظ سره دآزادي بیرغ پورته کړي .

هغوي زموږ په څېر نه وو چې یوعظیم الشان جهاد مو وکړ، نه یواځې له خپل هیوادنه مورروسیه وشړله ، بلکې وحشتناکه امپراتوري مو ورډړې وړې کړه خو ومونکړای شوای چې خپل وحدت وساتو او په ریښتیاني مفهوم خپلواکي ترلاسه کړو .

کله چې دهغه وخت داخله وزیر علي احمد په راولپنډۍ کې له انګلیسانو سره ترون لاس لیک کړاو په ترون کې زموږ دولس د«سوبې» اوبریالي «انعکاس ونه لیدل شو، نوپه قوم کې داپیداري موجود وه چې دټولي عقب ماندګي باوجود موضوع درک کړي، دعلي احمداشتباه یوه لویه ملي ګناه وګڼي او دمحاکمې غوښتنه ئي وکړي .

خونن وضع داسې ده چې زموږ په ټولنه کې میږې اولیوان ګډ سره ګرځي، نه ددې حساب شته چې چا زموږ هیواد په روسانوخرڅ کړ، پردي لښکرې یې راوستلې، اوتقریباً یوه نیمه لسیزه یې ټول وطن دسکو لپاره دګولیواوبارودو په ګډاوسکروټوکې په ایرووارلو ، نه ددې پوښتنه شته چې چا له روسانوسره سازش کاوه ، نه دامعلومه ده چې چا په نامقدس تړونونو سره زموږ دملت مظلومي هیلې برباد کړې او داسې حالت ئي راوست چې لحظه لحظه ئي دوینونهرونه دې اودفاجعوکتارونه .

دابېلابېل عوامل لري چې ولې پرون هغسې کیده او نن دغسې چې ویشوني .

مګریوه مسئله واضح ده چې پرون دملت دپاڅون ترشايو لوی هدف چې دخپل ټول قوم اوټول هیواد لپاره خپلواکي غوښتل، پروت و ، او نن متأسفانه دظاهراً ستروعنوانونو شعارونو اوعنوانونوترشاوړکوټې اهداف مطرح دي .

که نن هم ورکوټیو مسایلوته شاشي اودملت دږغورنې لپاره په یوه صادقانه داسې حرکت لاس پورې شي چې دقوم ملاتړترلاسه کړي ، زموږ دستونزو حل په بشپړه توګه عملي دي .

زموږ په ولس کې داسلام دعظمت اوبالتي روحیه مضبوطه ده ، جهاد زموږپه ټولنه کې یو روحي اوذهني انقلاب راوستي دي، زموږ په هیواد کې یو زړور، خطرقبلوونکي، سرغړاندي اواعتراض کرنسل راپورته شوي، که دهغه سمې رهبرۍ ته توجه وشي اودیوه هدف لپاره په هوښیارۍ سوق شي، ددې مایوس ملت اومړژواندي هیوادسرنوشت بدلون په دزماني یوقهري حکم شي، چې هیڅوک به یې دوالبع کېدو مخه نشي نیولای .

حزب اسلامي افغانستان اودهغه بابصیرته قیادت ګام په ګام دخپل ولس دبچاو په هڅولګیادي، دروسانو اوکمونستانو پرخلاف په مبارزه کې دخپل قوم دتوقعاتو په تله پوره ختلی، اوداحزب چې دخپلواکي مفهوم څومره درک کولای شي، څومره ئي دخپل قوم لپاره مقدسه ګڼلي، اوڅومره ئي د «حرمت» دروندګنی، هغه په تیرو درېو کلونوکي لانبه ثابته شوه .

حزب اسلامي له انګلیسانو نه دخپل هیواد دخپلواکي د۷۷ مې کلیزې په مناسبت ددې لپاره یوه ښه موقع ګڼي چې یوځل بیا په خپل ولس ، اوټولو هغوعناصرو چې دخپل مسلمان ملت اوهیواد دسرنوشت په برخه کې زړه سوي، اودردلري غږکوي چې راشي په یوه هدف ، یوه اواز اویوه حرکت دټولو هغو عواملو اوټولو هغو لاسونو مقابلي ته راووځوچي زموږ ولس ئي دبدمرغیوپه تیاروکي راګیرکړي .

که داکاروشي، هیڅ کوم لاس اوعامل ته که هغه هرڅومره مضبوط هم وي ممکنه نه ده چې دیوه ستراسلامي ملي حرکت مخې ته ټینګ شي .

راځي په همدې ورځ سرج وکړو چې ترڅوذلت ، ترڅوجګړې، ترڅوفقر، ترڅو په پردیو هیوادونو کې دبدنامی اوبې هویتي شپې ورځې تیرول، ترڅو دڅوغلو، مزدورو، لوڅارو اوخاینوعناصرو په لاسونوکې دهیواد اوملت تقدیر پریوتل . که داسرج په یوه اراده ، یوه «طغیان» اویوه اقدام واوري، هغه ورځ به خامخا اوژرراځي چې موږله جګړې خلاص شو، ملت اوهیواد مومتحد شي اوپه واقعي معنی یوه«خپلواک » ملت اوخپلواک هیواد شو .

آغاز حسن رابطه سیاسی میان افغانستان وپاکستان مبارکباد

بقلم : تاثیر

خوشبختانه ورود هیئت دولت افغانستان به اسلام آباد واستقبال گرم مقامات اسلام آباد ازهیئت تاحدي موانع ارتباطات وهمکاري هاي دوجانبه راازسرراه برداشت وهردو موافقه کردند که براي استحکام روابط سیاسي وحفظ روابط حسن همجواري کار هاي بیشتر صورت گیرد وبراي تسریع این پروسه بزودي سفارت پاکستان که ازمدتي بدینسومسدودبوده درکابل از سرگشایش یابد .

توافقات یادشده ظاهراً بـه نفع هردوکشور برادربوده راه هاي همکاري وتعاون رابراي هردوطرف بازمینماید ولي براي انجام توافقات صداقت وایمانداري لازم است .

مبرهن است که پاکستان براي انکشاف روابط خارجي خود خصوصاً راه یافتن به آسیاي میانه ضرورت جدي به اعاده امنیت در افغانستان دارد، تازمانیکه اوضاع افغانستان بحالت نورمال درنیامده باشد و دولت مرکزي قدرت کنترول ولایات وراه هاي مواصلاتي را درنیابد آرمان پاکستان درراستاي منافعش که ازافغانستان دارد به سرنخواهد رسید. که البته این نکته رامقامات پاکستان خوب درک کرده اند .

شکي نیست که پاکستان بانفوذیکه بالاي عده یي ازگروه هاي محارب افغاني دارد میتواند استفاده نموده درفروکش ساختن جنگ واعاده صلح معاونت نماید .

پاکستان باید بااستفاده ازدوستي بامخالفین دولت افغانستان به ارضاي دوستانش بپردازد وآنهاراوادارد کانال صلح بدارد ، تا امنیت درسرتاسر افغانستان تأمین شود .

دومین اقدام پاکستان براي کمک به صلح درافغانستان اینست که دولت افغانستان رادرعرصه اقتصادي یاري نموده درعمران وآبادي ویرانه هاي ناشي ازجنگ سهم گیرد تا دولت مرکزي بتواند براي ده ها هزارمهاجر بیرون مرزي ودرون مرزي خود سرپناه ومحل سکون تدارک ببیند تابدینوسیله مهاجرین بتوانند باعزت به وطن خود بازگردند وباري که سالهاست دوش پاکستان راسنگین ساخته است دیگرباعث تشویش پاکستان نباشد .

طبیعي است کـه با اعاده صلح درافغانستان دیگرهمه کشمکش ها میان پاکستان وافغانستان رخت مي بندد ومردم افغانستان درقبال احسان برادران پاکستاني خود مشکور وسپاسگذارمیباشند .

معلوم است که افغانستان درطي هفده سال خانه جنگي بـه ویرانه یي مبدل گردیده ، تولیدات زراعتي بـه حداقل خودرسیده وصنعت کاملاً ازمیان رفته است ومردم افغانستان به مردمي مصرفي مبدل شده اند ، وبراي رفع احتیاجات خود دست بدامان خارج دارند . هرگاه مناسبات پاکستان و افغانستان عادي بوده ، روابط ، حسن همجواري و برادرانه ، میان شان وجودداشته باشد، پاکستان میتواند ازبازار مصرفي افغانستان نفع ببرد وتمام اجناس تولیدشده درپاکستان بدون هیچ اشکالي درافغانستان به فروش برسد که این امر ازنظراقتصادي براي پاکستان ارزش زیاد دارد زیرا پاکستان از نقطه نظرصنعتي دروضع بهتري قرارداشته وبراي پیداکردن بازارجهت فروش تولیدات خود درتلاش است ، چه بهترکه این تولیدات به نزدیکترین کشور با مصرف کمتربه فروش برسد .

تحکیم صلح در افغانستان منفعت دیگري راکه عاید پاکستان مینماید شرکت افغانستان درجرگه کشور هاي اسلامي به نفع پاکستان درقضیه کشمیراشغالي میباشد .

هرچند افغانستان درحدي نیست که ازآن خواسته شود تابه توافقات خویش باپاکستان صداقت نشان دهد بازهم مواردي راکه مربوط به آن مي شود باید رعایت بدارد ودردوستي باپاکستان ازهیچگونه بذل مساعي دریغ ندارد زیرا پاکستان بحیث دومین خانه افغانها دردوران جهاد نقش مهم وجدي اي را بازي نمود ، گرچه افغانستان درحین یورش قواي سرخ شوروي که نظر به آبهاي گرم داشت سد مستحکمي شد واجازه نداد که آن قواپتواند به کشور پاکستان تجاوزنماید، بازهم کمکهاي کشوربرادرپاکستان قابل سپاس وشکران است وبراي اداي تشکر باید دولت افغانستان قبل ازهمه درارتباطات خارجي خود به پاکستان اهمیت قایل باشد وهرگز به اقداماتي دست نیازد که درآن منافع پاکستان زیرسوال برود . این گفته به این معني نیست که افغانستان دست وپاي بسته درهمه امورروشنوں بدون درنظر داشت منافع ملي تسلیم پاکستان باشد بلکه با حفظ استقلال سیاسي وتشخص ملي براي پاسباني از منافع هردوکشور تلاش نماید و روابط متقابل دوستانه رااستحکام بخشد .

انکارنمیتوان کرد که هر ملتي صاحب افتخارات وسنن بخصوص خود است که به آن مي نازد، همینگونه کـه ملت پاکستان علاقمندآزادزیستن است واز روزهاي آزادي وآزادي خواهان خود به افتخاریادمي نماید ملت افغانستان نیز به آزادي خویش ارج مي نهد ودرطول تاریخ حیات افغانستان مردم بـه آزادي بادیده قدرنگریسته است. پس به مقامات اسلام آباد است که هرگز راهي نروند که درآن اشتباه سلطه بـر افغانستان برود تادیگرمناسبات برادرانه این دوکشورقایم ودایم باشد .

دسیاست ژبه ؟

میوند

ژبه که هرڅوداافهام اوتفهیم وسیله ده خودیوه قام اووطن تشخص هم دي – موږ الحمدالله مسلمانان یو، زموږدین اسلام دي خوموږافغانان یو، موږ من الحیث القوم افغانان یو زموږ په وطن کي دري اوپښتوملي اورسمي ژبي دي ، نوري محلي ژبي هم شته ، داټولي زموږ ژبي دي اوزموږ دتشخص نخښي دي .

په تیروورځوکي ترپوڅه څنډوروسته له کابل نه یولوړرتبه هیئت پاکستان ته راغي او له پاکستاني مقاماتو سره یې لیده کاته وکړل . هیئت دکورنیو چارولـه وزیر، صدراعظمي اوجمهوررئیس سره ملاقاتونه درلودل ، ویل کیږي چي دهیئت دسفر نتایج ښه دي اوپه رآتلونکي کي به ددغوتابچونوروشبت ارخونه هم رابرسیره شي .

داخبره پرځیل ځاي چي ددغه هیئت اوکوربه هیواد دهم ځنګوترمنځ دمجربي ، سیاسي مهارت اوتخصص په اړه څومره انهول موجودؤ اوڅومره به یې پریوبل خپل دیپلوماتیک اثـر او رسـوخ استعمال کړي وي .

دپاکستان دکورنیو چارو وزیر پښتون دي، دي دصوبه سرحد ګورنرهم پاتي شوي اوپه پښتني سیموکي په جلسوکي ساعتونه ساعتونه پښتوخبري کوي په اردواو انګریزي هم بي تکلیفه خبري کوي مزه نه پوهیږم چې دکابل هیئت به له شاغلي بابرسره پښتو خبري کړي وي اوکه په بله ژبه .

دکابل هیئت دمشرمورني ژبه کـه هرڅوپښتو نده خوپښتو یي دوطن ژبه ده ، اوپه ښوونځي کي دیوه لازمي مضمون په توګه په نصاب کي شامله وه ددي ترڅنګ دي له پنځلسوکلونو زیات وخت په پښتو کي پاتي شوي اولدغه مجبوریت سره هم مخامخ شوي دي ، حتي چي کورني ته یي هم دپښتورګ ورګو شویدي . پښتو اودري زموږ دوطن ژبي دي . انګریزي بین المللي ژبه ده .

دخپلي ژبي اهمیت دادي چي زیاتره هیئتونه سره لدي چي په انګریزي وپرښه پوهیږي په خپلو خپلو ژبوخبري کوي ارخپل تشخص اوقومي وقار پرځاي ساتي

دپاکستان جمهوررئیس بلوڅ سردار اوپنجابي استوګن دکابل هیئت ته دهغوي

حال دويلولايق نه دی

دوطن په ژبه پښتوستري مشي وويل خودخبرو لپاره یي نزاکتاً اوپاهم سیاستاً دالازمه وګڼله چي له هیئت نه پوښتنه وشي چي جمهوررئیس له دوي سره پښتو خبري وکړي که اردو یاانګریزي .

دوغي پوښتني په ځواب کي دکابل هیئت عذرداوراندي کړي شوچي دهیئت ټول غړي په پښتونه پوهیږي ځکه خو باید په انګریزي خبري وشي . پداسي حال کي چي دکابل هیئت مشر په انګریزي له سره پوهیده نه دپاکستاني مقاماتو لپاره داغوښتنه دتعجب اوحیرانتیا خبره وه ځکه هم دهیئت غړو په پښتو خبري کولي شواي اوهم داچي پښتو دافغانستان رسمي اوملي ژبه ده .

سردار فاروق احمد خان لغاري بلوڅ سردار دي خواوس دپنجاب اوسیدونکي دي . دي په پښتو، پنجابي، بلوچي سندي ،اوسرائیکي ژبو رواني خبري کولي شي اودخپل وطن په ټولو ژبو پوهیږي اوداخپل فخرګڼي دکابل له هیئت نه دده پوښتنه هم داوه چي له هیئت سره ددوي دوطن په ژبه خبري وشي، داپه سیاست کي مېلمه هیئت ته یو اعزاز او کریدت هم دي چي له بده بخته هیئت خپله تري ځان بې برخي کړ . باداچي پدغه سیاسي رمز اودپلوماتیک رازیی لاسرنه ؤ خلاص .

په حقیقت کي داډپښتوبدقسمتي ده چي دچاداهم نه پري لوریږي چي پدې ژبه دي دسیاست اودپلوماسي خبري وشي اوبادي لږ تر لږه پدغه ژبه دیوبل هیواد دجمهوررئیس دخبرو اوریدل وزغملي شي .

دکابل ترجمان به په انګریزي ښه پوهیده ، کیداي شي په امریکا یالندن کي یې ډیر وخت تیرکړي وي خودسیاست اودپلوماسي ژبه له عامي اومحاورتي ژبي نه ډیر توپیرلري . د سیاست اودپلوماسي بحث، رمزونه او رازونه هغه باریکي ، دقت اوموشګافي غواړي چي ژرګران دژرو په ټول کي هـم ددومره احتیاط او دقت

پاتې د ۵، مخ ۶، ستون

تعرض

دافغانستان دپیښوپه باب دشوروی مطبوعاتوڅه لیکل؟

د«دمیتری ګایی» او« واسیلی سنیګروف» لیکنه — دخیبر ژباره

یوولسمه برخه

لکه څنګه چې موږ څو ، څو ځلې دی ته اشاره وکړه ، چې د شوروی اتحاد انسان چې دیو لوړ انسان په توګه ئی نوم نه یادیده او دغه غږیتوب ئی نه ؤ ترلاسه کړی ، هغه له ټولو هغو حقیقتی اطلاعاتي خپرونو څخه محروم ساتل شوی ؤ کومی چې د افغانستان د پیښو په اړه وی .

څـکه د افغانستان د پیښو د پوهیدو پـه اړه د شوروی اتحاد د خلکو تقاضا او غوښتنه ډیره لویه وه ، ځکه زموږ ځوانان دا مـو د سیند په هغی لوری په جګړه اخته وو ، هغوی په دغی جګړه کی مړه کـیدل ، ټپیان کیدل او معیوب کیدل .هغوی هلته څنګه دی ؟

د چاسره جګړه کوی ، چیرته ژوند کوی ، څه شی خوری ؟

دغوصاحبانو خو به لااقل په دی اړه د شوروی پـه مطبوعاتوکی یوڅه معلومات لیکلی وای . هیڅ شی هم په دی اړه نه نشریدل ، او که چیری نشر یدی به هم پوره درواغ به ئی نشرته سپارل .

د مثال په توګه روسی مطبوعاتو به داسی یاداشتونه نشرول ، د شوروی اتحاد پوځیان د دوستی په پارکونو کی څنګه دونونیالګی کینوی او یا دافغانستان لـه دهقانانو سره څنګه ځمکی شو د یـاره کـوی . هلته په خیابانونوکی د مړو پوځیانو قبرونه دهری ورځی په تیریدو سره مخ په زیاتیدو شول اودی پروسی په ساده ډول پرمختګ وکړ، هلته پـه زرګونو میندی بوري او وغمیدی ، خو قدرت نیوونکودوی جګړی په هکله یوه کلمه حقیقت هم نه ویلو او نه ئی تری پرده پورته کوله .

که د افغانستان پـه دموکراتیک جمهوریت کی هـیڅ جګـړه ایـز فعالیتونه نه ؤ !!!

نو بیا د سولی د وخت قهرمانان ، له کوم ځایه شول ؟

ددی پوښتني پـه ځواب کی به دوخت د تقاضا سره سم موږ لیکل ، دښوونی او روزنی په فعالیتونو کی د زړه ورتیا اومیرانئی له امله قهرمان شو ». په دی شکل موږ لیکنی اوکارکوه .

په۸۱ ۱۹ کال له موږ څخه یو تن د افغانستان له دڅه نـه د دیسانت د قطعی د یوتن پوځی د کارنامو په اړه چی د شوروی اتحاد قهرمان و یو او چیرك بوی ورځپاڼی تـه ولیږه یعنی دخپل هیواد ورځپاڼی تـه ،چی د هغو کارنامو لیکل د هغه قهرمان په ضررتمام شوی . د سانسور د مکولینو د زیات فشارله امله د دیسانت افسرد خپلی زړه ورتیـا او میړانی نه منکرېږی ... او وائی چی په تعلیمی مانوروتو کی د دښمن له حالت سره (د افغانستان نا اعلام شوی جګـړه د شوروی په قطعاتوکی دتعلیمی مانـوروتـو پـه شکل ښودل کیږی).

کله چی دغه سانسور شوی مطلب په ورځپاڼه کـی د محدودو قطعاتو «انترناسیو نالیستو» ولوست هغوی ژورنالستانو ته ډیرا سپکی او سپوری اوښکنځل وکړی .

په همدغی کال همدغه خبریال ته اداری دنده ورکړه چی د یـوه عسکر هغی مورته د ورځپاڼی له لاری ځواب ورکړی کومی چي د یـوه لیك په راالیږلوسره په دی ډول پوښتنی کړیدی:

زموږهلکان پـه افغانستان کی څنګه خدمت کوی ؟

د دینیپرپیتروسکی لـه ښارڅخه «ویراالیوانونامرینتکاش پـه دی هکله لیکی ، چی افغانستان اوس د هغی لپاره ترهرڅه نږدی دی، ځکه هلته اوس د هغی زوی «ساشا» موجـود دی . « دهغه د سرنوشت په اړه همیشه تشویش کوم . آیا راډیو خپلی سهارنی خپرونی پیل کـوی ، آیـا تلویزیون چالان کـړم . آیـا د «کمسوملسکایا» ورځپاڼه پـه لاس کی واخلم دترټولو دمخه می دا زړه غواړی چی هرڅه زرترزه ولولم ، ووینم او واورم چي په افغانستان کی څـه حالت دی ؟هلته آرامی ده ؟ هلته حالات څه ډول دی ؟

د ټولو خلکو پـه هکله د میندوزړونه دردکوی . د کـومـو چي د بچیانو ته غواړی په سوله کی ژوند وکړی ، کاروکړی او ماشومان وروزی .غواړم چي د دغه هیواد د پیښو په اړه زیات معلومات ترلاسه کړم د زوی ته می غوښتل چی خپل عکس راولیږی – نـه ئی رالیږي پـه لیکونوکی ئي د خدمت په اړه یوه کلمهٔ هم نشته لیکلی «هرڅه نورمال دی » اوزه یوه دقیقه آرامی نه لرم »

ژورنالست ـــــــــــ دعسکره «الکساندمیرنینکا» سره په افغانستان کی ولیدل . وروسته ئی د عسکرمورته د یو یاداشت په شکل ځواب تیارکړ . تقریباً ټول هغه شیات چی د جګړی مربوطه ؤ په چل سره تری ویستل شوی ؤ ، خو چاپ اونشرئی لوی انعکاسات را پیداکړل .

دا وخت د لښکرو د تعرض څخه یونیم کال تیرشوی ؤ .

چي د لومړی ځل لپاره ددی ټکی د پوهیدو امکان ترلاسه شو :

«چی دسیند په هغی غاړه زموږ عسکریوازی باغونه نه جوړوی ».

دکتاب یو لیکونکی «دمیتری ګاتی » لیکی : هوکی ! د مطبوعاتو په هکله باید څه ووایو ، دسانسور په اړه قدم کیښودل او دهغی تعقیب ؤ کله چی د استفادی وړ پوځی اسناد په ډیری ساده لوحی او سپیدلتیا په عجیبه شکل سره ساتل کیدل . زه د وسله وال پوځ په لوژستیکی قرارګاه کی د افغانستان د پیښو په اړه دډول ، ډول خبرو او اسنادو سره معرفی کیدم یوه ورځ مې

پاتې د ۵، مخ ۳، ستون

چې کشور دافغانانو معطر کا
د هر بیت مصراع مې زلفې د خوبان کړي

رحمان بابا

دزړه خواله

د خپلواکۍ اوه اویایم لمرځرک

ته کلونه د غلام په غلامۍ کې
نه ساعت د آزادۍ ، که څنګدن وي
محمد اکبرخادم

نن ګران ، وياړلى اوتاريخي افغانستان له سياسي آسمان نه د تورنيکيلاګګروتر سترخواك د تورولړو د واکمنۍ ستنې د زوال او راپرېوتو وياړلی ورځ ده .

نن دګران اوخپلواك افغانستان ميړنی اوغيرتي اولس د نړۍ د هغوسرلوړو اولسونو په سرکې ودريد چې د سرپه بيه ورته دخپلواکۍ او آزادۍ سودا د اوبو په بيه او وړيا شکاريده .

نن زموږ غازي اوميړنی اولس د ايمان په زور د هغه پيرنګي زورګير پوز ، په خاورو ولړل ، چې لمريې په ايللې او محکومه ټولواکمنۍ (امپراتورۍ) کې نه ډوبيده .

نن زموږ ملي ، قومي او روحاني مشرتابه په يوه لاس اوغږ دخپل ملي وحدت په برکت د لومړي ځل لپاره د نړۍ ايللبو او لسونو ته له پيرنګي ښکيلاك نه د غازي د خلاصون سبق ورکړ .

نن د حماسو او وياړونو د هيواد هغه شاليلۍ د تور د پوله تيرو منګولو مرۍ خلاصه کړه ، چې خپل ښايست وريوړی اور شوی و او دهند وی په جبر به په بدرګو د تاريخ په پيچومو اوګړليچونوکی تيريده .

نن دبرغل اوهوډ ترمنځ شخړه کی هرو ، زغم اوټينګار جوته کړه ، چې د «تنګ » په سکروټو کی د «جنګ »پولاد د پارۍ اوټنکارغوندی ويلی کيږي .

نن افغاني شجاعت جوته کړه چی دځان ګټی ترملی هغوځارول ملی اوتاريخی اړتياده .

او ويې ښوده چی

اولسونه چی سندرله وکا
پادشاهان ورته سجود کا اختيار

نن زموږميړنيو اوغازيانو ټيکونو موږ ته په ټپواله وروړلی کی په هسکوسترګو د اوسيدلو چل را وښود .

نن زموږ د ميړنی اولس د خولی هغه څوند، چی څوکلنو پرله پسی غورځو پرځو اولالهاندبو تريخ کړی و . د خپلواکی په خوږ وخوږ شو .

نن له خپلو ميړنيو اوتنګيالبو پلرونو سره زموږ د هغی ژمنی د زاغبرګولو او پخلی ورځ ده ، چی د آزادۍ د امانت راسپارنی پروخت يې له موږ نه په زانګوکی اخستی وه .

نن ددی ميړه زيږوونکی خاوری ، اولس اوديني ناموس ساتندويانودښمن ته وښوده ، چی دلته په روغه ستره راغلی دښمن بيرته روغه ستره نه شی وړای .

اوپالاخره پرهمدی تنی ورځ زموږ دتکيالبوټيکونو دښودلی تنګ برکت و، چی «تور » ښکيلاك ته ښودلی زور موږ سره ښکيلاك» ته هم دشرميدلی پرشاتګ لپاره دعبرت درس شو .

الهی ! داوياړاونعمت راپاندی ترقيامته ټينګ لره .

آزادی ترپادشاهيه لاتبری کا
چی دبل ترحکم لاندی شی زندان شی

(خوشال)

غزل

«بازمحمد «عابد»

يوڅرك خومی يوځل د زړه په لار راواړوه
خدايه په مين زړه مې پرهار راواړوه
ښکلی د ی په څنګه داسی ګرځي لکه ستوری
يوځوخوشري د مينی په مدار راواړوه
هنداره مې د زړه وريسی وركه ووكه ګرځي
تصويريری د کوم ښکلي پريسوار راواړوه
ساقی د می کيدی نه دی نن تش لاسونه نه څم
په لپو لپو سترګو کی خمار راواړوه
چی غرد ستار نه خيږی د څوخوتارونه
جانانه لږ په څانګه د چنار را واړوه

د لهب وږمې

چلونکی: محمدآصف (صميم)

ناول

۳- پس منظر : دپس منظر نه موږ د ناول دسياسي اوټولنيزې فضا ، دود ، دستور او دتهذيب اوتمدن د پيژندلو په برخه کی مرسته اخيستلی شو .

پس منظر موږ په اجمالي توګه سره دناول فضا او په چاپيريال سره تعبير کولی‌شو . اکثر ناول ليکونکی زيارباسی چی د يو منظر د کټ مټ وړاندی کولو د پاره ټول زور په بيان باندی واچوی، او په دغه بيان کی د معمولی څخه معمولی جذبات هم د نظره وانه چوی . يعنی ټوله فضا دپوه مصوريه توګه په نظر کی تيسی او په الفاظو کی يې منتقل کوي ، دلته دا خبره د يادونی وړده چی که چيری د ناول پس منظر په داسی توګه سره وړاندی کړی شی چی هغه دناول يوه برخه وګرځی . ولی که چيری هغه د ناول څخه بيل کړی شی ، نو په ناول کی پوره نيمګړتيا راځی . که چيری فضا او پس منظريه غوره او چټکه توګه سره وړاندی شی، نو دناول په تاثيرکی زياتوالی راځی .پس منظر دناول کردار پرمخ بيايی .

منظرد ناول د خاصو حالاتو ا ودهغه د کردارونو سره کوم اړيکی ونه لري او دهغه حيثيت په يوه ځانګړی توب کی وي ، نوپه دغه صورت کی په هغه کی د لوستونکی د پاره کومه دلچسپی نه پاتی کيږي . او دا کار په هيڅ صورت سره غوره اومناسب نه دي .

٤- د بيان انداز : د ناول په تشکيل او جوړښت کی چی څومره پلاټ ، کردارليکنه د کردارونود پاره مکالمې اوخبرې اترې ، نقطه نظر او پس منظر لازمي اوترکيبی اجزاګڼل کيږي ، په همغه اندازه د هغه د ښيړتيا په د پاره په بيان کی ښه والي اوغوره والي بې حده ضروري دی څرنګه چی ښت جوړونکي دمجسی ترجوړولو وروسته دهغه د جلاتو خواته متوجه کيږي اوغوره والي په کی راولی، په همدغه توګه سره پولوی ناول ليکونکی د خپل ناول د موادوترتيب کولونه وروسته د هغه هنري اړخ ته پاملرنه کوي، دی ګوری چی د ژبی استعمال په ښه توګه شوی او د موضوع سره يشپړه هم آهنګه ده که نه ، ناول ليکنه يو تخليقی هنردي، د هغه د پاره هم د هغه هنري اهتمام ضرورت شته لکه چی د شاعری څخه کومه هيله کيږي دلته هم د الفاظود جادوګری خپل کارکوی . حتی تر دی پوری چی محاوری هم د هغه په اهتمام کی استعماليږی ناول ليکونکی ته لازمه ده چی د بيان اسلوب ته پاملرنه وکړی .

دی بايد ژبه درسته ، مبتځلی ، روانه او دموضوع سره په بشپړه توګه هم آهنګه کړی . ژبه د کردار د خصوصياتو په نظرکی نيولو سره بايد وليکل شی ، ناول ليکونکی ته داهم لازمه ده چی په ناول کی مهمو اوغيرمهموعناصروته مناسب ځای ورکړی ، که چيری غيرمحموعناصروته زياته پاملرنه وکړي او مهم عناصرد نظر نه واچوی ، نو په دغه صورت کی د ناول توازن د منځه ځی ، ميرين کرافوردټومي يو ، ناول ته د(جيبی تياتر)نوم ورکړی دي . په هغه کی نه يوازی پلاټ او ټمثل وی بلکه موږ دهغه کالی وينو اومختلفی صحنی په نظر راځی . لنډه دا چی دلته ټول هغه شيان چی په درامه کی وينولېدل کيږی . يواځي توپيری په دي کی دي چی په درامه کی کوم کارسترګي کوی ، په ناول کی هغه فرايض د تخيل قوت ته سپارل کيږي ناول ليکونکی د ژوند انځور وړاندی کوي، ولی دغه انځورمحض عکاسی نه وي، هغه د ژوند د مسايلو تجزيه کوی په ناول کی پيښی وی ، کرداروی ولی ناول ليکونکی د کردار محض عکاسی نه کوی . هغه پوهيږي دی ادب تخليقوی په ادب کی د ژوند تشه عکاسی نه وی بلکی نورڅه هم وی د دغويوځونورو دتخليق کولو د پاره ناول ليکونکی د زړه وينې خوري ، د د ی ژوند د ريښيا وو پلټنه کوي . دا حقيقتونه يوازی د عکاسی په څيرنه وړاندی کوي بلکه د هغه په پس منظر کی د ريښيا وو پلټنه کوي او را باسی يې .

دی يوازی په واقعاتو باندی ... نه کوي، بلکه هغوواقعاتوته چی انسانان يې تر يوه حد ، پوری متاثرکړي ، د هغو روحياتی تحليل هم ضروری او حتمی کوي ، په دغه يادونه اوتجزيه کولوکی د ناول ليکونکی نقطه نظرهم څرګند يږی او موږته دا پته لګيږی چی کوم ژوند چی دی وړاندی کوي، د هغه په برخه کی ده په خپله هم يوڅه فکرکړی دی ، که نه ؟ په دې پرسيره آيا دهغه په باره کی دده رايه اوتنظرڅه د ی؟

د ناول ليکنه اوبيان بايد صاف اومبتځلی وي، ترڅولوستونکی په آسانۍ سره په هغه باندي پوه شی اومطلب ته ورسيږی . که چيری داسی نه وي ، نولوستونکی به دناول د هنري ښيګڼو نه پوره خوند وانه خلی . انګريزمشهورناول ليکونکی سامرست مام وايی چی :«زه ناول د اصلاح نفس د پاره نه لولم . داځکه چی دهغه د پاره نورکتابونه شته ».

د ناول د مطالعی نه دا تسانی شخصيت پيچ خم په برخه کی مرسته اخيستل کيږی دا ځکه چی دلته د انسانانو يو هجوم او ګڼه ګونه ليدل کيږی . ناول ليکونکی د ريښتاوو تبليغ کوي او د يوه مقصد اوهدف د پرمختګ د پاره زيار باسی . که چيری د هغه سره هدف اومقصد نه وي ،نوپه هغه صورت کی د ده د پاره د يوي جملی ليکل هم ګران دي .

ولی د دی معنی دا نه ده چی موږ د هغه څخه د اخلاقو د کتابونو کارواخلو او بايی لوستل د ثواب او په ځان فرض ګڼلو دپاره وکړو .

ناول يې حده اوږده‌یای شی ، دومره اوږد لکه د تولستوی (جنګ اوسوله) ولی لنډيدای هم شی . په ناول کی د ژوند يوه سنجول شوي تجزيه وي . دلته ژوند د خپلوټولوحقيقتونو سره ښکاری او موږ فکرکولو اوغوروکولوته مجبوروی .

ناول ليکنه هنرد ي . په ناول ليکونکی باندی دا لازمه ده چی د ليکلوپه وخت کی دهنر د ټولو اداپو دخيال ساتنه وکړی .

ته د لراونه دبريم مستقل خپلواك انسان يم
نه شرقی يم نه غربی يم بس افغان يم بس افغان يم
نه نوکريم دغربيانو نه بنده يم انګريزانو
باهمته مسلمان يم ارواوه مې په ايمان يم
نه دچاپه خوله پاځمه نه دچاپه خوله کينمه
زه دخپل سباوون سترګه زه مې لمردخپل اسمان يم
داخپل کوراوخپل وطن به مې په سروويښو ساتمه
زه دخپل کاله کوربه يم زه دخپل وطن پاسبان يم
زه په خپل تاريخ وياړمن يم نوميالی دشرق اتل يم
زه دسپيڅی توری پرك يم دخپلواك ژوندون ارمان يم
سره اوسپين مې له هيواده سرواوسپينو خلکولوټ کړه
زه مې تن دخپل وطن يم که زه ګټه يم که زيان يم

دخونچی د رباط ور په واکيدو دی
قافله د رنګ وبو د روملی سباشو

شيدا

لنډه کيسه

د ژمي بيديا

د « تنها » ليکنه

دژمي وريځو وروخسو ، څېرو لمرونو اوسري صندلي انځراکاسرکال دومره وځوراوه لکه زمادښارنيلي آسمان چی دپاروټوتورمخي شيطانان ګروي .

